الدرس السابع
التيمم

اووم درس
تیمم

تيمم په حالت د سفر او حالت د اقامت دواړو کښې جائز دی ، داد اودس او غسل بدل دی ، خو پدی شرط چی د لاندینو اسبابو نه یو سبب موجود شی :

(۱) کله چی اُوبه بالکل نوی یا وی خو د ضرورت نه کمی وی ، لیکن اول به د اُوبو تلاش کوی د خپل وس مناسب ، د نشتوالی په صورت کښې به تیمم وهی ، او که چرته اُوبه نزدی وی لکن د هغی په طلب کې یا د هغی په استعمال کې د خپل مال یا ځان د ضائع کیدو خطره وی بیا هم تیمم وهلی شی ،

(۲)کله چی داودس په بعضو اندامونو کښې زخم وی ، هغه به اُوبو باندی وینځلی شی که چرته وینځلو کښې تکلیف وی بیا به لاس لوند کړی ، او مسحه به پری وکړی ، او که چرته مسحه کښې هم ضرر وی ، بیا به نور اندامونه ووینځی ، او ددغه زخمی اندام دپاره به تیمم ووهی.

(۳) موسم یا اُوبه دومره حده پوری یخي وی ، چی داندامونو د شل (فالج) کیدو یا دبل څه ضرر خطره وی بیا هم تیمم کول جائز دی.

(٤)که چرته اوبه موجودی وی ، لیکن صرف د ښښکلو دپاره کافی کیږی بیا به هم تیمم کولی شی.

د تیمم طریقه:

زړه کښې به نیت بغیر د تلفظ د ژبی نه وکړی ، بیا به په دواړو لاسونو زمکی لره یو ګوزار ورکړی او په مخ به ئی یو ځل راکاږی اوبیا به په ګس لاس د ښی لاس د مړوند ظاهر طرف مسحه کړی او په ښي لاس به د ګس لاس د مړوند ظاهر طرف مسحه کړی ، په کومو څیزونو چی اودس ماتیږی په هغی تیمم هم ماتیږی ، او ددی نه علاوه که چرته اُوبه د مونځ کولونه مخکښې پیداء شوی یا د اُوبو په استعمال باندی قادر شو ، که د مونځ په دوران کښې هم داسی حالت جوړ شو بیا هم تیمم مات شو ، او که چرته د مونځ نه فارغ شوی وی او اُوبه پیداء شوی بیا وربااندی اعاده د مونځ نشته دی.